

Tax Ombudsman

# د ماليې شکايت؟

موږ د آسټراليا د ماليې او تقاعد سيسټمونو په عادلانه کولو کې مرسته کوو.

موږ د آسټراليا د ماليې دفتر (ATO) او د ماليې متخصصينو بورډ (TPB) په اړه شکايتونه ګورو او د هغوی په حل کې مرسته کوو.

Tax Ombudsman

Pashto | پښتو

## څرنګه زموږ سره اړيکه ونيسئ

**taxombudsman.gov.au**

**1300 44 88 29** (دعادي تلفون لګښت)

**enquiries@taxombudsman.gov.au**

**GPO Box 551, Sydney NSW 2001**

د **وړيا** ژباړې او ترجمې د خدماتو لپاره،
**131 450** ته زنګ ووهئ او د
**1300 44 88 29** غوښتنه وکړئ.

که تاسو کاڼه ياست، د اورېدو ستونزه لرئ، يا د خبرو اترو يا اړيکو سره ستونزه لرئ، مهرباني وکړئ د مرستې لپاره **accesshub.gov.au** ته مراجعه وکړئ.



# مونږ څرنګه ستاسو سره مرسته کولی شو

که تاسو باور لرئ چې ATO یا TPB ستاسو سره غیر عادلانه یا غیر معقول چلند کړی دی، تاسو کولی شئ له مونږ سره اړیکه ونیسئ. مونږ کولی شو د لاندې شکایتونو په اړه مرسته وکړو:

- د مالیې د یوې برخې په راګرځولو یا تادیاتو کې ځنډ
- ضعیف خدمت یا غیر عادلانه چلند
- د مالیې پورونه یا د پور راټولول
- د تادیې پلانونه یا د سود لګښتونه
- د مالي ستونزو لپاره ترتیبات
- د تقاعد د تضمین تادیات ورک شوي دي
- د شرکت د مالیې پورونه یا د مدیر د جریمې خبرتیاوې.

زمونږ خدمت وړیا او خپلواک دی.

که تاسو ډاډه نه یاست چې آیا مونږ مرسته کولی شو، مهرباني وکړئ زمونږ سره اړیکه ونیسئ.

که ستاسو ستونزه زمونږ د دندې څخه بهر وي، مونږ به هڅه وکړو چې تاسو د مرستې لپاره سمې ادارې ته لارښوونه وکړو.

مونږ نشو کولی ستاسو د مالیې د یوې برخې په راګرځولو یا دا چې تاسې څومره د مالیې پوروړي یاست په اړه مشوره درکړو.

# څرنګه شکایت وکړو

مخکې لدې چې مونږ ستاسو سره مرسته وکړو، تاسو باید دمخه ATO یا TPB ته شکایت کړی وي.

د شکایت د ثبتولو لپاره، مهرباني وکړئ **taxombudsman.gov.au** وېب سایټ ته لاړ شئ او "**Lodge a complaint**" (شکایت ثبت کړئ) انتخاب کړئ.

د تفتیش افسر به ستاسو شکایت د تاییدولو لپاره په دوو کاري ورځو کې له تاسو سره اړیکه ونیسي او د راتلونکو ګامونو په اړه به ستاسو سره خبرې وکړي.